6 June 2002

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون

کابل : د ۲۰۰۸ کال د ډسمبر ۲۲

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په افغانستان کې د روانو وسله والو شخړو په بهیر کې د ناپوځي کسانو د تلفاتو زیاتوالی او له هغې نه د رامنځته شویو منفي اغیزو له امله ، چې زمونږ د خلکو په عادي ژوند او د بیا روغونې په بېلابېلو برخو تپل شوي، خپله ژوره اندېښنه څرګندوي.

کمېسیون نن د ۱۳۸۷ لمریز کال د لیندۍ په دیرشمه نیټه دوه بېلابېل راپورونه ،چې په افغانستان کې کې د ښکېلو ډلو ،د نړیوال بشرپاله قوانینو څخه د سرغړونو په اړه دي خپروي.

دغه دوه راپورونه «د افغانستان د ملکي خلکو پر وړاندي د مخالفینو سرغړوني» او د هیلي نه د ویرې په لور – د افغانستان کي د حکومت پلوي پوځي ځواکونو په اړه دافغانانو نظرونه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون هغه جلا او پراخه څیړنې دي، چې د ۱۳۸۲ د مرغومي –کب او د ۱۳۸۷ د چنګاښ – تلي میاشتو په بهیر کې سرته رسیدلي دي.

دغه راپورونه د خپل زماني واټن له مخې د هغه سرغړونو په ګډون دي، چې د ۱۳۸۵کال له منځ څخه د ۱۳۸۷ کال تر منځ پورې د ښکېلوخواوو له خوا د وسله واله شخړو په ترڅ کې تر سره شویدي.

ددغو دواړو راپورونو د څیړنو له پاره د کمېسیون څیړونکي د سهیل، لویدیز،ختیز،جنوب ختیزاو د هیواد مرکزي حوزو، ولایاتو او ولسوالیوته کاري سفرونه کړي دي او برسیره پردې یې د قربانیانو له کورنیو او د ۱۷۰ تنو عیني شاهدانو سره مرکي کړي . د دولتي ملکي او ځایي پو ځي مسوولینو ، په افغانستان کې د نړیوالو ځواکونو له مسوولینو، د روغتیایي مرکزونو او نادولتي موسسو له مسوولینو او د ځایي او قومي مخورو معلومات او نظرونه هم راټول کړیدي، سربیره پردي فزیکي نښي او نښانې لکه د سندونو ، انځورونو او له پیښو څخه ویدیویي فلمونه، په مسلکي بڼه راټول شوي ،چې وروسته مطالعه ،تحلیل او ارزول شوي او د راپورونو د مستندلو له پاره کارول شویدي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په دغو راپورونو کې د جګړې پر مهال د ملکي کسانو په اړه د دولت د مخالف وسله والو ډلو، نړیوالو او حکومتي ځواکونو کړنې او چلندونه د نړیوال بشرپاله قوانینو( د جګړو قوانین ) د اسلامي شریعت د مقرراتو او احکام په تیره بیا د جګړې پر مهال او ملي قوانینو په رڼا کې چې د جګړې پرمهال الزام لرونکي دي مطالعه او ارزولي دي.

همدارنګه دغو راپورونو هغه منفي اغیزې هم څیړلي دي، چې په جګړه کې د ښکېلو خواوو کړنې د ملکي خلکو په ورځني ژوند په تیره بیا په بېلابېلو برخو کې لکه ښوونه او روزنه ، روغتیااو کاري

بوختیاوي د زیان منونکو د نه لاسرسي په اړه پرېښي دي ، په همدې ډول د دولت د مخالفو ډلو د جګړېیزو کړنو زیان رسونکي اغیزې د بیارغونې پرتولکټو پروژو له پامه نه دي غو رځیدلي .

## په دغو راپورونو کې بنسټیزې موندني :

د افغانستان دولت مخالفو وسله والو ډلود خپلو پوځي عملیاتو د اجرا پرمهال نه دي توانیدلي چې د پوځي او ناپوځي موخو تر منځ توپیر وکړي او د دولت د کمزورۍ په موخه یې په پراخه او سیستماتیکه بڼه ناپوځي کسان خپل هدف ګرځولي دي .

په دغه موخو کې ، ډاکټران ، ښوونکي،زده کوونکي،قومي مشران،د دولت د ملکي برخې کارمندان ،په ټول ګټو پروژو او د بشري مرسته رسولو شبکو اړوند روز مزد کاریګران د هغه موخو په ګډون دي چې په قصدي ډول هدف ګرځول شویدي.

د دولت وسله والو مخالفینو هر هغه چاته،چې له دولت او نړیوالو ځواکونو سره اړیکي لري که څه هم ملکي کسان وي،د دښمن په سترګه ورته ګوري او له هغوی سره د یو مشروع پوځي هد ف په توګه چلند کوي .

پرناپوځي کسانو د دولت د وسله والو مخالفانو د بریدونو اغیزې له هغو اغیزو پورته دي چې د داسې بریدونو پرمستقیمو قربانیانو راځي.

پر ښوونکو او ښونځیو بریدونه ددې لامل شوي چې کوچنیان پر ښوونه او روزنه له لاسرسي څخه بې برخې شي او همدارنګه د طبي تدارکاتو په وړاندې خنډونه او پرروغتیایي مرکزونو ځانمرګي بریدونه ددې لامل ګرځي ،چې خلک په ټولیزه توګه پر روغتیایي خدمتونو لاسرسی ونه لري.

د دولت وسله وال مخالفین د مرستندویه موسسو هغه کارکوونکي چې د جګړې له امله زیان لیدونکي قشرونو ته بشري مرستې رسوي هم خپل هدف ګرځوي ، داکړنه ددې لامل شوي چې څو بنسټونه (نهادونه) خپل فعالیتونه د افغانستان په ځینو سیموکې بند کړي . ددې یوه څرګنده بېلګه د کابل –ګردیزپر لاره د لوګر په ولایت کې د IRC موسسې پر کارکونکو برید وو ، چې ددې موسسې درې تنه کارکوونکي په کې ووژل شول.

د ملکي کسانو وژنه، د دښمن د ځواکونو اوملکي کسانو ترمنځ نه توپیر، دسیاسي موخو د ترلاسه کولو له پاره د خلکو په منځ کې د ویرې او ډار رامنځته کول په روښانه توګه څرګندوي ،چې د دولت وسله وال مخالفین له اسلامي بشرپاله اصلو اونړیواله بشرپاله قوانینو څخه په ډاګه سرغړونه کوي.

۲- د افغانستان دولت په ملاتړ دپوځي ځواکونو د عملیاتو په اړه :

- هوایي بریدونه ډېری د ناپوځي تلفاتو او هغوی ته د مالي زیان سره مل دي . دغه وضعیت د افغانانو ترمنځ دا تصور رامنځته کړی، چې د دولت ملاتړي پوځي ځواکونه د ناپوځي کسانو

په اړه له بې پروايي څخه کار اخلي او د جګړې په بهير د ملکي خلکو دځان او مال د ساتني په فکرکې نه دي.

- د دولت د ملاتړو ځواکونو ،همدارنګه ددغو ځواکونو او حکومت د ځايي مسوولينو ترمنځ نه همغږي دغه اندېښنه رامنځته کړې ،چې دغه ځواکونه د نه باور او د تير ايستونکو اطلاعاتو پر بنسټ عمل کوي، چې په پايله کې د ملکي خلکو ژوند ته زيات ګوابښ ور پيښوي.
- د نړيوالو ځواکونو په وسيله د شپې له خوا دکورنو تالاشي زياتره يرغليزه بڼه لري، چې ښځو ،کوچنيانو او بوډاګانو ته دنه درناوي په درلودلو سره چې دخلکو دودونو ،فرهنګ او ديني عقايدو څخه سرغړونه بلل کيداى شي، دغه راز کړنو اوعملونه د افغانستان خلک ډېر په غوسه کړي دي.
- که څه هم په خپله ذات کې دکورونو تالاشي سرغړونه نه ده ، مګر د ځواکونو چلند اوکړنې ددې لامل ګرځي ،چې په ټولنه کې پراخ غبرګونونه راوپاروي. بله بنسټيزه اندېښنه چې په دې اړه شته ،هغه د هغو اقداماتو نشتوالی دی، چې دا رنګه يرغليزو بريدونو ته ځواب ووايي.
- ملکي کسان فکر کوي ،چې دا ډول سرغړونو عاملانو له پاره د هيڅ ډول عدلي تعقيب تدبيرونه نه دي نيول شوي، ان که هغوی په رښتيا سره هم سرغړونه کړې وي.
- د خلکو دغه تصور دافغانستان حکومت او د نړلوالو پوځي ماموريت په اړه د ملاتړ کچې ته زيان رسوي .
- نه اعتراف او دقربانيانو هيرونه، د ښښنې غوښتنه او د قربانيانو له پاره د زيان نه جبران ددې لامل شوی، چې د دولت دملاتړو ځواکونو په اړه ټوليزه کرکه او غوسه زياته شي.
- ملکي خلکو ته پر رسيدلي زيان سترګې پټول اوپه دې اړه د نړيوالو ځواکونو له خوا د راڼه او ښکاره څيړنو نه تر سره کېدل دخلکو دې تصور سره مرسته کوي، چې نړيوال ځواکونه ليوالتيا نه لري ،چې خپلو کړنو په وړاندې ځواب ووايي اودا ددې ښوونه کوي ،چې هغوی خلکوته د رسيدلي زيان په اړه هيڅ ډول اندېښنه نه لري.
- د ځينو قضيو په اړه ،نړيوال ځواکونه نه دي توانيدلي ،چې روښانه اوښکاره څيړنې وکړي او يا د څيړنو پايلې ،دتنبهې تدبېرنو په ګډون که چيرې که پلي شوي وي، دخلکو د خبرتيا له پاره خپاره کړي وي.

ددغو قضيو ارزونه څرګندوي چې په راپور کې د راغليو پيښو په اړه د افغانستان دولت دملاتړو ځواکونه په قسمي ډول د بشري حقونو نړيوال قوانين نه دي مراعات کړي او سربېره پر دې د روښانه او ښکاره څيړنو نشتوالي او دځواب ووېلو په برخه کې د مرتکبينو د عدلي تعقيب په اړه ناڅرګندتيا ددې لامل شوې ،چې ملي او نړيوالو قوانينو ددغو ځواکونو د ژمنتيا په اړه شکونه رمنځته کړي او په دې توګه د خلکو او هغوی ترمنځ واټن زيات شي.